**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# اسلامي ښوونه او روزنه

## جعفري مذهب

### پنځم ټولګی

لري. په
ع ده. له

Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۹۰ . ش.

د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# د قرآن کریم زده کړه
# او
# اسلامي ښوونه او روزنه
## جعفري مذهب

## پنځم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ . ش.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب د تالیف، څېړنې او تدقیق کمېټې

### لیکوالان:

- محمد عزیز بختیاري.
- محمد باقر جعفري.
- علي رضا اخلاقي

### د تدقیق کمېټې:

### د پوهنې وزارت علمي غړي:

- محمد عزیز بختیاری، محمدباقر جعفري، سیدعبدالوهاب رحماني، یار محمد باقري، سید محمد حسین فرهنګ او فاروق انصاری.

### د نورو اورګانونو غړي:

۱. سید حسین عالمي بلخي په ولسي جرګه کې د عدلي او قضایي کمیسیون غړی.
۲. نعمت الله غفاري په ولسي جرګه کې د ښوونې او روزنې او لوړو زده کړو د دیني کمیسیون غړی.
۳. مولوی عبدالعزیز په ولسی جرګه کې د ښونې او روزنی او عالی تحصیلاتو د دینـــی کمیسیون غړی.
۴. قاضي نذیر احمد حنفي په ولسي جرګه کې د تقنین د کمیسیون مرستیال.
۵. سید عبداللطیف سجادي د شیعه علماوو د شورا غړی.
۶. مولوي عین النعیم د علماوو د سراسري شورا غړی.

## لړلیک

### د قرآن کریم زده کړه

د قرآن کریم زده کړه ........ ۱–۱۸

### اسلامي ښوونه او روزنه

لومړی فصل: عقاید ........ ۱۹–۳۸
دویم فصل: احکام ........ ۳۹–۴۹
دریم فصل: آداب او اخلاق ........ ۵۰–۶۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د پوهنې د وزیر پیغام**

**گرانو ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختگ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختگ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کیږي. څرگنده ده چې علمي پرمختگ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښایي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي گټورې موضوعگانې پکې زیاتې شوې دي. د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه گرځېدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده‌کوونکو میندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې گډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ گران استادان او ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دروند مسؤولیت لري.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرگندو اړتیاوو له مخې پراختیا ومومي.

په دې ډگر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو موسسو، او نورو ملگرو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردگ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قرآن کریم زده کړه

## ۱- د حفظ کولو برخه:

لومړی لوست:

د الفاتحې، الاخلاص، الفلق او الناس سورتونو مراجعه (حفظ, تلاوت اوتجوید)

( فاتحې سورت)

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿١﴾

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢﴾ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿٣﴾

مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ﴿٤﴾ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ﴿٥﴾

اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴿٦﴾ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ

عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ ﴿٧﴾

## الناس سورت

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ﴿١﴾ مَلِكِ النَّاسِ ﴿٢﴾ اِلٰهِ النَّاسِ ﴿٣﴾

مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ ﴿٤﴾ الَّذِىْ يُوَسْوِسُ فِىْ

صُدُوْرِ النَّاسِ ﴿٥﴾ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ﴿٦﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

## الفلق سورت

**أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ**

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ① مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ② وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا
وَقَبَ ③ وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِی الْعُقَدِ ④ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ⑤

## الاخلاص سورت

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
قُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ ① اَللهُ الصَّمَدُ ② لَمْ يَلِدْ ۙ وَلَمْ
يُوْلَدْ ③ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ④

**دويم لوست :**

### د المسد او النصر د سورتونو (حفظ, تلاوت اوتجويد)

## المسد سورت

**أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ**

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
تَبَّتْ يَدَآ اَبِیْ لَهَبٍ وَّتَبَّ ① مَآ اَغْنٰی عَنْهُ مَالُهٗ وَمَا
كَسَبَ ② سَيَصْلٰی نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ③ وَّامْرَاَتُهٗ حَمَّالَةَ
الْحَطَبِ ④ فِیْ جِيْدِهَا حَبْلٌ مِّنْ مَّسَدٍ ⑤

(c) ketabton.com: The Digital Library

## النصر سورت

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
إِذَا جَآءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ ① وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ
اللهِ أَفْوَاجًا ② فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهٗ كَانَ تَوَّابًا ③

دریم لوست:

## د الکافرون سورت (حفظ, تلاوت اوتجوید)

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
قُلْ يٰٓأَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ① لَآ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ②
وَلَآ أَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ أَعْبُدُ ③ وَلَآ أَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُّمْ ④ وَ
لَآ أَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ أَعْبُدُ ⑤ لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ ⑥

ځلورم لوست:

## د الکوثر او الماعون سورتونو (حفظ, تلاوت اوتجوید)

## الکوثر سورت

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
إِنَّآ أَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ ① فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ② إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ③

# الماعون سورت

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ○
أَرَءَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ ① فَذَٰلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ ② وَ
لَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ الْمِسْكِينِ ③ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ ④ الَّذِينَ هُمْ عَن
صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ ⑤ الَّذِينَ هُمْ يُرَاءُونَ ⑥ وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ ⑦

پنځم لوست :

## د قريش او الفيل سورتونو (حفظ, تلاوت اوتجويد)

# قريش سورت

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ○
لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ ① إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ ② فَلْيَعْبُدُوا
رَبَّ هَٰذَا الْبَيْتِ ③ الَّذِي أَطْعَمَهُم مِّن جُوعٍ وَآمَنَهُم مِّنْ خَوْفٍ ④

# الفيل سورت

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ○
أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ ① أَلَمْ يَجْعَلْ
كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ ② وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ ③
تَرْمِيهِم بِحِجَارَةٍ مِّن سِجِّيلٍ ④ فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ ⑤



(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم لوست :

**د الهُـمَـزه سورت له ( ۱ــــ۴ ) آیتونو (حفظ, تلاوت اوتجوید)**

**أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ**

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةِ ۝١ الَّذِىْ جَمَعَ مَالًا وَّعَدَّدَهٗ ۝٢
يَحْسَبُ اَنَّ مَالَهٗٓ اَخْلَدَهٗ ۝٣ كَلَّا لَيُنْۢبَذَنَّ فِى الْحُطَمَةِ ۝٤

اووم لوست :

**د الهُمَزه سورت له( ۵ــــ۹ )آیتونو ( حفظ، تلاوت او تجوید )**

وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْحُطَمَةُ ۝٥ نَارُ اللهِ الْمُوْقَدَةُ ۝٦ الَّتِىْ
تَطَّلِعُ عَلَى الْاَفْـِٕدَةِ ۝٧ اِنَّهَا عَلَيْهِمْ مُّؤْصَدَةٌ ۝٨
فِىْ عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ ۝٩

اتم لوست :

**د العصر سورت اوتېرو سورتونو (حفظ, تلاوت اوتجوید)**

## العصر سورت

**أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ**

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
وَالْعَصْرِ ۝١ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِىْ خُسْرٍ ۝٢ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ
عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ ۙ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ۝٣



(c) ketabton.com: The Digital Library

نهم لوست :

**د التکاثرسورت له ( ۱__۴ ) آیتونه او تېرو سورتونو (حفظ, تلاوت اوتجوید)**

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
اَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ ① حَتّٰى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ ② كَلَّا سَوْفَ
تَعْلَمُوْنَ ③ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ④

لسم لوست :

**د التکاثر سورت له ( ۵ ___۸ ) آیتونه (حفظ تلاوت او تجوید).**

كَلَّا لَوْ تَعْلَمُوْنَ عِلْمَ الْيَقِيْنِ ⑤ لَتَرَوُنَّ الْجَحِيْمَ ⑥
ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِيْنِ ⑦ ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَئِذٍ
عَنِ النَّعِيْمِ ⑧

## د تلاوت برخه (۱)

یوولسم لوست:

**د الشمس سورت له ( ۱___۸ ) آیتونه (تلاوت اوتجوید)**

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
وَالشَّمْسِ وَضُحٰىهَا ① وَالْقَمَرِ اِذَا تَلٰىهَا ② وَالنَّهَارِ اِذَا
جَلّٰىهَا ③ وَالَّيْلِ اِذَا يَغْشٰىهَا ④ وَالسَّمَآءِ وَمَا بَنٰىهَا ⑤
وَالْاَرْضِ وَمَا طَحٰىهَا ⑥ وَنَفْسٍ وَّمَا سَوّٰىهَا ⑦ فَاَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا
وَتَقْوٰىهَا ⑧



(c) ketabton.com: The Digital Library

دولسم لوست:

## د الشمس سورت له (٩__١٥) آیتونو (تلاوت او تجوید)

قَدْ أَفْلَحَ مَنْ زَكّٰهَا ﴿٩﴾ وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰهَا ﴿١٠﴾ كَذَّبَتْ
ثَمُودُ بِطَغْوٰهَا ﴿١١﴾ إِذِ انْبَعَثَ أَشْقٰهَا ﴿١٢﴾ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ
اللّٰهِ نَاقَةَ اللّٰهِ وَسُقْيٰهَا ﴿١٣﴾ فَكَذَّبُوهُ فَعَقَرُوهَا فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ
رَبُّهُمْ بِذَنْبِهِمْ فَسَوّٰهَا ﴿١٤﴾ وَلَا يَخَافُ عُقْبٰهَا ﴿١٥﴾

دیارلسم لوست:

## دالبلد سورت له (١_______١٠) آیتونو (تلاوت اوتجوید)

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ
لَا أُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِ ﴿١﴾ وَأَنْتَ حِلٌّ بِهٰذَا الْبَلَدِ ﴿٢﴾ وَوَالِدٍ وَمَا
وَلَدَ ﴿٣﴾ لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي كَبَدٍ ﴿٤﴾ أَيَحْسَبُ أَنْ لَنْ يَقْدِرَ
عَلَيْهِ أَحَدٌ ﴿٥﴾ يَقُولُ أَهْلَكْتُ مَالًا لُبَدًا ﴿٦﴾ أَيَحْسَبُ أَنْ لَمْ يَرَهُ
أَحَدٌ ﴿٧﴾ أَلَمْ نَجْعَلْ لَهُ عَيْنَيْنِ ﴿٨﴾ وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ ﴿٩﴾ وَهَدَيْنٰهُ
النَّجْدَيْنِ ﴿١٠﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

ثوارلسم لوست:

**د البلد سورت له (۱۱___ ۲۰) آیتونو (تلاوت او تجوید)**

فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ ﴿١١﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْعَقَبَةُ ﴿١٢﴾ فَكُّ رَقَبَةٍ ﴿١٣﴾
أَوْ إِطْعَامٌ فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَةٍ ﴿١٤﴾ يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ﴿١٥﴾
أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ ﴿١٦﴾ ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا وَتَوَاصَوْا
بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ ﴿١٧﴾ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ ﴿١٨﴾
وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِنَا هُمْ أَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ ﴿١٩﴾ عَلَيْهِمْ نَارٌ مُؤْصَدَةٌ ﴿٢٠﴾

## ۲- د حفظ کولو برخه

پنځلسم لوست:

د لاندې سورتونو مراجعه: الفاتحه، الناس، الفلق، الاخلاص ، المسد ، النصر، الکافرون، الکوثر، الماعون، قریش،الفیل، الهمزه، العصر او التکاثر.

شپاړسم لوست:

**د القارعة سورت له (۱___۵) آیتونو (حفظ, تلاوت او تجوید)**

**أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ**

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
الْقَارِعَةُ ﴿١﴾ مَا الْقَارِعَةُ ﴿٢﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْقَارِعَةُ ﴿٣﴾
يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ ﴿٤﴾ وَتَكُونُ الْجِبَالُ
كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوشِ ﴿٥﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

اووه لسم لوست:

**دالقارعة سورت له ( ۶____۱۱ ) آیتونو (حفظ، تلاوت او تجوید)**

فَأَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ ﴿٦﴾ فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿٧﴾
وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ ﴿٨﴾ فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ ﴿٩﴾ وَمَا
أَدْرَاكَ مَا هِيَهْ ﴿١٠﴾ نَارٌ حَامِيَةٌ ﴿١١﴾

اتلسم لوست:

**د العادیات سورت له ( ۱__۶ ) آیتونو (حفظ, تلاوت اوتجوید)**

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
وَالْعَادِيَاتِ ضَبْحًا ﴿١﴾ فَالْمُورِيَاتِ قَدْحًا ﴿٢﴾ فَالْمُغِيرَاتِ صُبْحًا ﴿٣﴾
فَأَثَرْنَ بِهِ نَقْعًا ﴿٤﴾ فَوَسَطْنَ بِهِ جَمْعًا ﴿٥﴾ إِنَّ الْإِنسَانَ لِرَبِّهِ
لَكَنُودٌ ﴿٦﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

نولسم لوست :

**د العادیات سورت له (۷____۱۱) آیتونو (حفظ، تلاوت او تجوید)**

وَإِنَّهُ عَلَىٰ ذَٰلِكَ لَشَهِيدٌ ﴿٧﴾ وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ ﴿٨﴾ أَفَلَا يَعْلَمُ
إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ ﴿٩﴾ وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ ﴿١٠﴾ إِنَّ رَبَّهُم
بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيرٌ ﴿١١﴾

## ۲- د تلاوت برخه:

شلم لوست:

**دالفجر سورت له (۱____۸) آیتونو (تلاوت اوتجوید)**

**أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ**

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
وَالْفَجْرِ ﴿١﴾ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ﴿٢﴾ وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ ﴿٣﴾ وَاللَّيْلِ إِذَا
يَسْرِ ﴿٤﴾ هَلْ فِي ذَٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِي حِجْرٍ ﴿٥﴾ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ
رَبُّكَ بِعَادٍ ﴿٦﴾ إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ ﴿٧﴾ الَّتِي لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا
فِي الْبِلَادِ ﴿٨﴾

یو ویشتم لوست :

**د الفجر سورت له (۹____۱۴) ایتونو (تلاوت او تجوید)**

وَثَمُودَ الَّذِينَ جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ ﴿٩﴾ وَفِرْعَوْنَ ذِي
الْأَوْتَادِ ﴿١٠﴾ الَّذِينَ طَغَوْا فِي الْبِلَادِ ﴿١١﴾ فَأَكْثَرُوا فِيهَا
الْفَسَادَ ﴿١٢﴾ فَصَبَّ عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ عَذَابٍ ﴿١٣﴾
إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ ﴿١٤﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ويشتم لوست:

## د الفجر سورت له ( ۱۵___ ۲۰ ) آيتونو (تلاوت او تجويد)

فَأَمَّا الْإِنسَانُ إِذَا مَا ابْتَلَاهُ رَبُّهُ فَأَكْرَمَهُ وَنَعَّمَهُ فَيَقُولُ
رَبِّي أَكْرَمَنِ ﴿۱۵﴾ وَأَمَّا إِذَا مَا ابْتَلَاهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهُ
فَيَقُولُ رَبِّي أَهَانَنِ ﴿۱۶﴾ كَلَّا بَل لَّا تُكْرِمُونَ الْيَتِيمَ ﴿۱۷﴾
وَلَا تَحَاضُّونَ عَلَىٰ طَعَامِ الْمِسْكِينِ ﴿۱۸﴾ وَتَأْكُلُونَ التُّرَاثَ
أَكْلًا لَّمًّا ﴿۱۹﴾ وَتُحِبُّونَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا ﴿۲۰﴾

درويشتم لوست :

## د الفجر سورت له ( ۲۱____۲۴ ) آيتونو (تلاوت او تجويد)

كَلَّا إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا ﴿۲۱﴾ وَجَاءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ
صَفًّا صَفًّا ﴿۲۲﴾ وَجِيءَ يَوْمَئِذٍ بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ
يَتَذَكَّرُ الْإِنسَانُ وَأَنَّىٰ لَهُ الذِّكْرَىٰ ﴿۲۳﴾ يَقُولُ
يَا لَيْتَنِي قَدَّمْتُ لِحَيَاتِي ﴿۲۴﴾

ځليرويشتم لوست:

## د الفجر سورت له ( ۲۵_ ۳۰ ) ايتونو (تلاوت اوتجويد).

فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهُ أَحَدٌ ﴿۲۵﴾ وَلَا يُوثِقُ
وَثَاقَهُ أَحَدٌ ﴿۲۶﴾ يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ﴿۲۷﴾
ارْجِعِي إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ﴿۲۸﴾
فَادْخُلِي فِي عِبَادِي ﴿۲۹﴾ وَادْخُلِي جَنَّتِي ﴿۳۰﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳- د حفظ برخه:

پنځه ویشتم لوست :

دلاندې حفظ شوو سورتونومراجعه: الفاتحه ، الناس ، الفلق ، الاخلاص ، المسد ، النصر ، الکافرون ، الکوثر ، الماعون ، قریش ، الفیل ، الهمزه ، العصر ، التکاثر، القارعه او العادیات.

شپږویشتم لوست:

**دالزلزلة سورت له (۱____۵) آیتونو (حفظ, تلاوت اوتجوید)**

**أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ**

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا ﴿١﴾ وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا ﴿٢﴾
وَقَالَ الْإِنْسَانُ مَا لَهَا ﴿٣﴾ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا ﴿٤﴾ بِأَنَّ
رَبَّكَ أَوْحَىٰ لَهَا ﴿٥﴾

اوه ویشتم لوست:

**د الزلزلة سورت له ( ۲____۸)آیتونو (حفظ، تلاوت او تجوید)**

يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ ﴿٦﴾ فَمَنْ
يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ﴿٧﴾ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ
ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ ﴿٨﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳- د تلاوت برخه:

اته ویشتم لوست:

### د الغاشیة سورت له ( ۱___ ۱۱ ) آیتونو (تلاوت اوتجوید)

أعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطَانِ الرَّجِیمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ○
هَلْ اَتٰىكَ حَدِیْثُ الْغَاشِیَةِ ﴿۱﴾ وُجُوْهٌ یَّوْمَئِذٍ خَاشِعَةٌ ﴿۲﴾ عَامِلَةٌ
نَّاصِبَةٌ ﴿۳﴾ تَصْلٰى نَارًا حَامِیَةً ﴿۴﴾ تُسْقٰى مِنْ عَیْنٍ اٰنِیَةٍ ﴿۵﴾ لَیْسَ
لَهُمْ طَعَامٌ اِلَّا مِنْ ضَرِیْعٍ ﴿۶﴾ لَّا یُسْمِنُ وَلَا یُغْنِیْ مِنْ جُوْعٍ ﴿۷﴾
وُجُوْهٌ یَّوْمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ ﴿۸﴾ لِّسَعْیِهَا رَاضِیَةٌ ﴿۹﴾ فِیْ جَنَّةٍ
عَالِیَةٍ ﴿۱۰﴾ لَّا تَسْمَعُ فِیْهَا لَاغِیَةً ﴿۱۱﴾

نه ویشتم لوست:

### د الغاشیة سورت له ( ۱۲___ ۲۰ ) ایتونو (تلاوت او تجوید)

فِیْهَا عَیْنٌ جَارِیَةٌ ﴿۱۲﴾ فِیْهَا سُرُرٌ مَّرْفُوْعَةٌ ﴿۱۳﴾ وَّاَكْوَابٌ
مَّوْضُوْعَةٌ ﴿۱۴﴾ وَّنَمَارِقُ مَصْفُوْفَةٌ ﴿۱۵﴾ وَّزَرَابِیُّ مَبْثُوْثَةٌ
﴿۱۶﴾ اَفَلَا یَنْظُرُوْنَ اِلَى الْاِبِلِ كَیْفَ خُلِقَتْ ﴿۱۷﴾ وَاِلَى السَّمَآءِ
كَیْفَ رُفِعَتْ ﴿۱۸﴾ وَاِلَى الْجِبَالِ كَیْفَ نُصِبَتْ ﴿۱۹﴾ وَاِلَى الْاَرْضِ
كَیْفَ سُطِحَتْ ﴿۲۰﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

دیرشم لوست :

## د الغاشیة سورت له (۲۱ـــــــ۲۲) ایتونو (تلاوت او تجوید)

فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ ﴿٢١﴾ لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ ﴿٢٢﴾ إِلَّا مَن
تَوَلَّىٰ وَكَفَرَ ﴿٢٣﴾ فَيُعَذِّبُهُ اللَّهُ الْعَذَابَ الْأَكْبَرَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ إِلَيْنَا إِيَابَهُمْ ﴿٢٥﴾
ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُم ﴿٢٦﴾

یو دیرشم لوست:

## د الاعلی سورت له (۱ــــ۹) آیتونو (تلاوت اوتجوید)

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى ﴿١﴾ الَّذِي خَلَقَ فَسَوَّىٰ ﴿٢﴾ وَالَّذِي قَدَّرَ
فَهَدَىٰ ﴿٣﴾ وَالَّذِي أَخْرَجَ الْمَرْعَىٰ ﴿٤﴾ فَجَعَلَهُ غُثَاءً أَحْوَىٰ ﴿٥﴾
سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنسَىٰ ﴿٦﴾ إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ ۚ إِنَّهُ يَعْلَمُ الْجَهْرَ وَمَا
يَخْفَىٰ ﴿٧﴾ وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرَىٰ ﴿٨﴾ فَذَكِّرْ إِن نَّفَعَتِ الذِّكْرَىٰ ﴿٩﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه د پرشم لوست:

## د الاعلى سورت له ( ١٠ ـــــ ١٩ ) آيتونو (تلاوت او تجويد)

سَيَذَّكَّرُ مَنْ يَخْشَىٰ ﴿١٠﴾ وَيَتَجَنَّبُهَا الْأَشْقَى ﴿١١﴾ الَّذِي يَصْلَى النَّارَ
الْكُبْرَىٰ ﴿١٢﴾ ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ﴿١٣﴾ قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكَّىٰ ﴿١٤﴾
وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّىٰ ﴿١٥﴾ بَلْ تُؤْثِرُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ﴿١٦﴾
وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ ﴿١٧﴾ إِنَّ هَٰذَا لَفِي الصُّحُفِ الْأُولَىٰ ﴿١٨﴾ صُحُفِ
إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ ﴿١٩﴾

دري د پرشم لوست:

## دالطارق سورت له ( ١ ـــــ ١٠ ) ايتونو (تلاوت اوتجويد)

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
وَالسَّمَاءِ وَالطَّارِقِ ﴿١﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الطَّارِقُ ﴿٢﴾
النَّجْمُ الثَّاقِبُ ﴿٣﴾ إِنْ كُلُّ نَفْسٍ لَمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ ﴿٤﴾
فَلْيَنْظُرِ الْإِنْسَانُ مِمَّ خُلِقَ ﴿٥﴾ خُلِقَ مِنْ مَاءٍ دَافِقٍ ﴿٦﴾
يَخْرُجُ مِنْ بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَائِبِ ﴿٧﴾ إِنَّهُ عَلَىٰ رَجْعِهِ
لَقَادِرٌ ﴿٨﴾ يَوْمَ تُبْلَى السَّرَائِرُ ﴿٩﴾ فَمَا لَهُ مِنْ قُوَّةٍ وَلَا
نَاصِرٍ ﴿١٠﴾

څلورد پرشم لوست:

## د الطارق سورت له ( ١١ ـــ ١٧ ) آيتونو (تلاوت او تجويد).

وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الرَّجْعِ ﴿١١﴾ وَالْأَرْضِ ذَاتِ الصَّدْعِ ﴿١٢﴾
إِنَّهُ لَقَوْلٌ فَصْلٌ ﴿١٣﴾ وَمَا هُوَ بِالْهَزْلِ ﴿١٤﴾ إِنَّهُمْ يَكِيدُونَ
كَيْدًا ﴿١٥﴾ وَأَكِيدُ كَيْدًا ﴿١٦﴾ فَمَهِّلِ الْكَافِرِينَ
أَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا ﴿١٧﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه د ېرشم لوست:

د تیــرو حفــظ شــوو ســورتونومراجعه: الفاتحــه ، النــاس ، الفلــق ، الاخــلاص، المسد ،النـصر، الكـافرون، الكـوثر، المـاعون، قـريش، الفيـل، الهمـزه، العـصر، التكاثر، القارعه، العاديات او الزلزلة.

شپږد ېرشم لوست:

## د البروج سورت له (۱___۹) آیتونو (تلاوت اوتجوید)

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ ۙ۝١ وَالْيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ ۙ۝٢ وَشَاهِدٍ
وَّمَشْهُوْدٍ ؕ۝٣ قُتِلَ اَصْحٰبُ الْاُخْدُوْدِ ۙ۝٤ النَّارِ ذَاتِ
الْوَقُوْدِ ۙ۝٥ اِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُوْدٌ ۙ۝٦ وَّهُمْ عَلٰى مَا يَفْعَلُوْنَ
بِالْمُؤْمِنِيْنَ شُهُوْدٌ ؕ۝٧ وَمَا نَقَمُوْا مِنْهُمْ اِلَّآ اَنْ يُّؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ
الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ۙ۝٨ الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَ
اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ؕ۝٩

اووه د ېرشم لوست:

## د البروج سورت له (۱۰___۱۳) ایتونو (تلاوت او تجوید).

اِنَّ الَّذِيْنَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوْبُوْا
فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيْقِ ؕ۝١٠ اِنَّ الَّذِيْنَ
اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا
الْاَنْهٰرُ ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيْرُ ؕ۝١١ اِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ
لَشَدِيْدٌ ؕ۝١٢ اِنَّهٗ هُوَ يُبْدِئُ وَيُعِيْدُ ۚ۝١٣

اته دپرشم لوست :

## د البروج سورت له (۱۴____۲۲) آیتونو (تلاوت او تجوید)

وَهُوَ الْغَفُوْرُ الْوَدُوْدُ ﴿۱۴﴾ ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيْدُ ﴿۱۵﴾ فَعَّالٌ لِّمَا
يُرِيْدُ ﴿۱۶﴾ هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ الْجُنُوْدِ ﴿۱۷﴾ فِرْعَوْنَ وَثَمُوْدَ ﴿۱۸﴾
بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ تَكْذِيْبٍ ﴿۱۹﴾ وَّاللّٰهُ مِنْ وَّرَآئِهِمْ مُّحِيْطٌ ﴿۲۰﴾
بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ ﴿۲۱﴾ فِيْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ ﴿۲۲﴾

نه دپرشم لوست :

## د الانشقاق سورت له (۱___۹) آیتونو (تلاوت اوتجوید)

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ ﴿۱﴾ وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ﴿۲﴾ وَاِذَا
الْاَرْضُ مُدَّتْ ﴿۳﴾ وَاَلْقَتْ مَا فِيْهَا وَتَخَلَّتْ ﴿۴﴾ وَاَذِنَتْ
لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ﴿۵﴾ يٰاَيُّهَا الْاِنْسَانُ اِنَّكَ كَادِحٌ اِلٰى رَبِّكَ
كَدْحًا فَمُلٰقِيْهِ ﴿۶﴾ فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖ ﴿۷﴾
فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَّسِيْرًا ﴿۸﴾ وَّيَنْقَلِبُ اِلٰى اَهْلِهٖ
مَسْرُوْرًا ﴿۹﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

ثلوېښتم لوست:

**د الانشقاق سورت له (۱۰__۱۹) آیتونو (تلاوت او تجوید)**

وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ وَرَاءَ ظَهْرِهِ ﴿١٠﴾ فَسَوْفَ يَدْعُو
ثُبُورًا ﴿١١﴾ وَيَصْلَىٰ سَعِيرًا ﴿١٢﴾ إِنَّهُ كَانَ فِي أَهْلِهِ مَسْرُورًا
﴿١٣﴾ إِنَّهُ ظَنَّ أَن لَّن يَحُورَ ﴿١٤﴾ بَلَىٰ إِنَّ رَبَّهُ كَانَ بِهِ
بَصِيرًا ﴿١٥﴾ فَلَا أُقْسِمُ بِالشَّفَقِ ﴿١٦﴾ وَاللَّيْلِ وَمَا وَسَقَ ﴿١٧﴾
وَالْقَمَرِ إِذَا اتَّسَقَ ﴿١٨﴾ لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٍ ﴿١٩﴾

یوڅلوېښتم لوست:

**دالانشقاق سورت له (۲۰_____ ۲۵) آیتونو (تلاوت او تجوید)**

فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠﴾ وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنُ لَا يَسْجُدُونَ ﴿٢١﴾
بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا يُكَذِّبُونَ ﴿٢٢﴾ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُوعُونَ ﴿٢٣﴾
فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٤﴾ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا
الصَّالِحَاتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴿٢٥﴾

تکرار:

د تېرو حفظ شوو سورتونو: الفاتحې، الناس، الفلق، الاخلاص، المسد، النصر، الکافرون، الکوثر، الماعون، قریش، الفیل، الهُمَزه، العصر، التکاثر، القارعه، العادیات او الزلزلة،تکرار.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی فصل: عـقـا يد

لومړی لوست:

## توحيد

**هدف:**

**۱. د توحيد له معنا سره بلد تيا**

**۲. د الله تعالی د يو والي له ځينې د لايلو سره آشنايي.**

**پوښتنې:**

**۱. ستاسې له نظره توحيد بايد څرنګه معنا شي؟**

**۲. آيا تاسې کولی شئ د الله تعالی پر يووالي باندې دليل اقامه کړئ؟**

څرنګه چې پوهېږو توحيد زمونږ د دين له اصولو څخه يو مهم اصل دی.

توحيد يعنې چې مونږ پر واحد الله تعالی باندې ايمان لرو او يوازې د هماغه عبادت کوو. د الله تعالی پر يووالي باندې زيات دلايل موجود دي. ځينې يې فلسفي دلايل دي چې يوازې د عقل په واسطه ثابتيږي. خو ځينې نور يې تجربوي دي چې د الله تعالیٰ د مخلوقاتو له نظم او پيوستون څخه په مشاهدې او څېړنې ثابتيږي.

په قرآن کريم کې هم د الله تعالی پر يووالي باندې قانع کوونکې دلايل راغلي دي. يو له هغو غوره دلايلو څخه د انبيا سورت په دوه ويشتم آيت کې داسې بيان شوی دی. (لوکان فيهما الهة الاا لله لفسدتا) که وای په ځمکه او اسمان کې نور معبودان او



(c) ketabton.com: The Digital Library

حاکمان بې له الله تعالی څخه نو خا مخا وران شوي بـه وو دواړه. د دې لپـاره چې د پـورتني آیـت پـه دلیـل را وړنـې بانـدې پـوه شـو لاندې مثـال پـه پـام کـې نیـسو: که ستاسې د کور په شان یو کور کې څو تنه دواک خاوندان وي او هر یو له نورو سره له مشورې پرته تصمیم و نیسي او لاس پکار شي په دغه کور کې بـه څـه پېښ شـي؟ ایـا دا ډول کـورنی نظـام بـه تـر ډېره پایښت و مـومي او کـه نـه ډیـر ژر بـه ړنګ او لـه مینځه ولاړشي؟ همدا ډول که په یوې ولسوالۍ کې دوه ولسوالان، په یوه ولایت کـې دوه والیان او یا په یوه هیواد کې دوه یا دري رئیس جمهوران وجود ولري، څه پیښې به را مینځ ته شي. که په جهان کې څو خدایان وجود ولري او هر یو په یوه کار لاس پورې کړي، مثلاً: یوو غواړي یو موجود مینځ ته راوړي او بل یې و نه غـواړي او یـا یووغواړي یو کار سرته و رسوي او بـل یـې مخالفت و کـړي، پـه دې صـورت کـې بـه جهان له مینځه ولاړشي. او دغه عجیب نظم چې همدا اوس پکې تر سترګو کېږي، وجود و نلري نو د جهان موجوده نظم او پیوستون ددې دلیـل دی چې یـوازې یـو الله وجود لـري چې هغـه هماغـه الله تعالی دی چې مـونږ یـوازې د هغـه عبـادت کـوو او یوازې د هغه تابع یو د هغه په عبادت کولو کې زمونږ لوړوالی او کمال دی او د نورو عبادت او فرمان وړنه د انسانانو د بدبختۍ او پر یو تنې لامل ګرځي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**هڅونه:**

۱. زده کوونکي دې د توحید د معنا په باره کې لږ تر لږه پنځه کرښې ولیکې.

۲. زده کوونکي دې پر څو ګروپونو وویشل شي او د آیت شریف په باره کې دې و غږیږي.

۳. زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د جهان د نظم څو مثالونه ولیکي چې د الله تعالی پر یووالي باندې دلیل وي.

۴. زده کونکي دې یو له بل سره ددغو سیارو د نظم په باره کې چې انځور شوي دي، خبرې وکړې چې څه ډول د الله تعالی پر وجود باندې دلالت کوي.

**ارزونه:**

۱. د ورځې او شپې بدلون د ................ پر وجود دلالت کوي.

۲. آیت شریف د ............. دلالت کوي.

۳. عقلي دلایل هغه دي.........



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم لوست:

# عبادتي توحيد

**هدف:**

له عبادتي توحيد سره آشنايي.

**پوښتنې:**

۱. ايا پوهيږئ چې يوازې الله تعالى د عبادت وړ دى؟
۲. ايا ستاسې په ذهن له الله تعالى پرته بل څوک د عبادت وړ کېداى شي؟

الله تعالى يو دى او په هيڅ کار کې شريک نه لري، د ټولو شيانو پيدا ايښت او اداره د هغه (ج) په قدرت کې دى او هغه هېچا ته اړتيا نه لري. ټولو پيغمبرانو د يوه الله لوري ته خلک را بللي دي او ورڅخه يې غوښتل چې د يوه الله تعالى تابع اوسي او خاص د هماغه عبادت وکړي.

د پيغمبر(ص) له اساسي شعارونو څخه چې د انسان د بري ضامن دي، يو هم د يوه الله اثبات او د نورو خدايانو نفې کول دي، لکه چې ويلي يې دي:

(قولوا لااله الاا لله تفلحوا) يعنې ووايئ چې پرته له يوه الله (ج) څخه بل څوک د عبادت وړ نشته برياليي به شئ.

نو يوازې الله تعالى د عبادت او ثنا لايق او د اطاعت او بندګۍ وړ دى. د تل لپاره ښايي چې د هغه(ج) فرمان وړونکي و اوسو، البته په پام کې ولرو چې د اسلام د ستر پيغمبر(ص) او دهغه د نيکو پيروانو مينه او محبت له عبادتي توحيد سره منافات نه لري ځکه چې هېڅ يو مسلمان، پيغمبر(ص) د الله(ج) په پرتله محترم نه شميري او

نه يې عبادت کوي بلکې د الهي دربار د يوه مقرب بنده په حيث ور څخه د الله (ج) په وړاندې د شفاعت کولو هيله لري.

## فعالیت

۱. عبادتي توحيد په پنځو کرښو کې توضيح کړئ.
۲. د عبادتي توحيد توپير له ذاتي توحيد سره بيان کړئ.

## ارزونه:

۱. ايا زده کوونکي د عبادتي توحيد پر معنا پوهيدلي دي؟
۲. ايا زده کوونکو د عبادتي توحيد او ذاتي توحيد تفاوت درک کړی دی؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

دريم لوست:

# د الله تعالی صفات

**هدف:**

۱. د الله تعالی له ځينو صفتونو سره آشنايي.

۲. د الله تعالی د ذات پر يووالي باندې پوهېدل.

**پوښتنې:**

۱. د الله تعالی له کومو صفتونو سره آشنايي لرئ؟

۲. ايا د الله تعالی ذات او صفات سره يو دي او که توپير لري؟

الله تعالی داسې صفتونه لري چې پېژندل يې زمونږ لپاره ضروري دي.

په عمومي ډول الله تعالیٰ د دوو ډولو صفتونو لرونکی دی.

(۱) ثبوتي صفتونه (۲) سلبي صفتونه.

ثبوتي صفتونه هغه دي چې الله تعالی لره ثابت دي. او سلبي صفتونه هغه دي چې وجود يې د الله تعالی لپاره نه ثابتيږي. د مثال په ډول: حيات د الله تعالی يو ثبوتي صفت دی دغه صفت د الله تعالی لپاره ثابت دی.

سلبي صفتونه بيا هغه ډول دي چې له الله تعالیٰ څخه نفي کېږي، لکه چې وايو الله تعالیٰ جسم نه دی.

د الله تعالی د صفتونو وېش داسې هم شوی دی چې صفتونه يا د الله تعالی په ذات پورې تړلي دي او يا د الله تعالی په فعل پورې لکه د حيات صفت چې د الله تعالیٰ تر ذات پورې تړاو پيدا کوي.

او د خالقيت صفت د الله تعالی په فعل پورې تړاو پيدا کوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

يعني څرنګه چې الله تعالی د خلق (پیدا ینبت) عمل سرته رسوي په دغه صفت نومول کېږي.

د الله تعالیٰ ځیني مهم صفتونه په لاندې ډول سره دي:

| | | |
|---|---|---|
| ۱-قدرت | ۲- خالق | ۱۱- ځای نه لري |
| ۲-علم | ۷- ازلي | ۱۲- شریک نه لري |
| ۳-حیات | ۸- جسم نلري | ۱۳- بې نیازه دی |
| ۴-اراده | ۹- په دنیا کې لیدل کېږي نه | |
| ۵-قدیم | ۱۰- ظلم نه کوي | |

## هڅونه:

۱. زده کوونکي دې د ذاتي او فعلي صفتونو فرق په خپلو کتابچو کې ولیکي.

۲. هغه صفتونه چې د لوست په وروستۍ برخه کې راغلئ په غور سره ولولي ثبوتي او سلبي صفات سره جلا کړئ.

## ارزونه:

۱. له زده کوونکو څخه دې وغوښتل شي چې د ذاتي ثبوتي اوثبوتې فعلي او ذاتي سلبي او سلبي فعلي صفتونو مثالونه راوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# معجزه

**هدف:**

**۱. د معجزې له معنا سره آشنايي.**

**۲. د پیغمبرانو له مختلفو معجزاتو سره بلد تیا.**

**پوښتنې:**

**۱. د معجزې پر معنا پوهیږئ؟**

**۲. د پیغمبرانو(ع) له معجزو سره بلد یاست؟**

لکه چې پوهېږو الله تعالیٰ ډېر پیغمبران(ع) د انسانانو د لارښوونې لپاره رالیږلي دي خو کله به چې کوم امت ته پیغمبر لیږل کېده نو خلکو به ورڅخه د خپلې پیغمبرۍ د ثبوت لپاره د معجزې غوښتنه کوله. له الهي پیغمبرانو څخه به معمولاً داسي کارونه صادرېدل چې عام وګړي به يې له سرته رسولو څخه ناتوانه وو. دغسې کار ته معجزه وايي. ځکه چې نور خلک يې له سرته رسونې څخه عاجز او کمزوري دي. معجزه دومره مشهوره ده چې هر وخت به چا د پیغمبرۍ دعواه وکړه نو خلکو به ورڅخه د معجزې غوښتنه کوله نو هر پیغمبر(ع) به د خپلې زمانې له شرایطو سره سم خپله معجزه ښودله. په قرآن کريم کې د يو شمير پیغمبرانو(ع) دځینو



(c) ketabton.com: The Digital Library

معجزو نمونه اخستل شوې دي، لکه د موسي علیه السلام څو معجزې چې په لاندې ډول.

۱. فرعون ټول ساحران را ټول کړل او جدي غوښتنه يې ور څخه وکړه چې موسی علیه السلام ته په مقابلي کولو سره ماتې ورکړي. ساحرانو خپل سحرونه واچول بيا يې موسی علیه السلام ته وويل که مقابله کولی شی نو وار دې دی موسی علیه السلام خپله امسا و غورځوله او د يو لوی ښامار په شکل کې يې د ساحرانو ټولې سحرې کړنې تر ستوني تيرې کړې.

۲. موسی علیه السلام به لاس په خپل ګريوان کې د ننه کړ چې را بهر به يې کړ نو د نور په شان به ځلېده.

د عيسی (ع) ځينې معجزې په لاندې ډول سره دي.

۱. عيسی (ع) به د الله تعالی په اجازې د پيس پر بېمارۍ باندې اخته کسانو ته شفا ورکوله.

۲. د الله تعالی په اذن به يې له ختو څخه د مرغانو ځيري جوړولې او بيا به يې پکې پو کړل ژوندي مرغان به شول او هوا ته به والوتل.

۳. د الله تعالی په اذن به يې مړي ژوندي کول.

۴. يوه ورځ د عيسی علیه السلام يارانو ورڅخه د الله تعالی له لوري د دسترخوان د نازليدلو غوښتنه وکړه عيسی علیه السلام دعا وکړه، سمدستي له خوړو ډک دسترخوان ورته د الله تعالی له لوري را کوز کړای شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلام پیغمبر محمد مصطفي (ص) هم ډېرې معجزې درلودلې چې تر ټولو مهمه معجزه یې قرآن کریم ده.

**هڅونه:**

۱. د لوست لنډیز په لسو کرښو کې ولیکئ.

۲. د پیغمبرانو(ع) څو نورې معجزې چې په قرآن کریم کې ذکر شوي ولیکئ.

**ارزونه:**

۱. ایا زده کوونکي د معجزې پر سمه معنا پوه شوي دي؟

۲. ایا زده کوونکي له ذکر شوو معجزو سره په ښه توګه آشنا شوی دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم لوست:

# د رسول الله (ص) معجزې

**هدف:**

۱. د الهي پیغمبر له معجزو سره بلد تیا.

۲. د اسلام د پیغمبر(ص) له سترې معجزې(قرآن کریم) سره آشنایي.

**پوښتنې:**

۱. آیا پوهیږئ چې قرآن کریم زمونږ د پیغمبر(ص) تر ټولو لویه معجزه ده؟

۲. ایا پوهیږئ چې زمونږ د پیغمبر(ص) دغه معجزه همیشنۍ ده؟

زهرا او لطیفه تل یو ځای ښوونځي ته ورتللې، پر یوې څوکې به د یوه میز تر شا کښیناستلې. دواړو به د ښوونځي پر لاره د علمي مطالبو په باره کې خبرې اترې کولې. یوه ورځ یې چې له خپل دیني ښوونکې څخه د نبوت او انبیاوو(ع) په باره کې څه اورېدلي و. د دې لپاره چې د کتاب مطالب او د ښوونکې وینا وې یې ښې زده کړې وې د پیغمبرۍ د نښانو په اړه یوې له بلې سره خبرې اترې کولې. زهرا له لطیفې څخه و پوښتل: د اسلام د پیغمبر(ص) تر ټولو مهمه معجزه څه ده؟ لطیفې له لږ فکر کولو وروسته په موسکا وویل: پوهیږې هر پیغمبر د خپل حقانیت د اثبات لپاره یوه یا څو معجزې لري. د مثال په ډول د موسی علیه السلام امسا په ښامار بدله شوه. او یا دا چې عیسی علیه السلام مړي ژوندي کول. د اسلام پیغمبر(ص)



(c) ketabton.com: The Digital Library

هم د خپلې پیغمبری د اثبات لپاره معجزې لرلې. که څه هم له رسول ا لله (ص) څخه خورا زیاتې معجزې لیدل شوې دي خو تر ټولو غوره یې (قرآن کریم) دي چې تل پاتې دی. زهرا د دې لپاره چې د (قرآن) پر اعجاز باندې ښه پوه شي ، و پوښتل: ( قرآن کریم) څرنګه معجزه ده؟

لطیفې چې هېڅکله به یې په بې فکرۍ سره خبرې نه کولې، لږ ځنډ یې سوچ وکړ. داځل یې د دې پر ځای چې د زهرا ځواب پخپله و وایي، و ویل:

دې پوښتنې ته باید پخپله ځواب و وایاست.

زهرا وویل: تر کومه ځایه چې زه پوهېږم قرآن کریم لـه څو پلوه معجزه ده. د بیان د ښکلا (بلاغت) له پلوه او په راتلونکې کې د علمي خبرداریو له پلوه، ځکه چې داسې زیات شیان پوهانو د قرآن کریم د نزول لـه زمانې څخه ډېرې پېړۍ وروسته کشف کړي چې لاپخوا په قرآن کې ورته اشارې شوې دي.

لطیفې وویل: په رښتیا عجیبه ده. د قرآن ځانګړتیا د نورو پیغمبرانو(ع) پر معجزو باندې په همدې اساس ده چې قرآن یوه علمي معجزه ده.

په خبرو خبرو کې دواړه هغې دوه لارې ته رسیدلي وې چې نا چاره یوه له بلې خدای په اماني واخلي، نوربحث یې بلې ورځې ته پرېښود.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## هڅونه:

۱. قرآن کریم څه ډول معجزه ده؟

۲. د اسلام د پیغمبر(ص) معجزه د نورو پیغمبرانو(ع) له معجزو سره څه تفاوت لري؟

## ارزونه:

محترم ښوونکی دې له زده کوونکو څخه پوښتنې وکړي چې قرآن کریم څرنګه یوه تل پاتې معجزه ده، نمرې دې ورکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم لوست:

# معاد

**هدف:**

۱. د معاد له معنی او مفهوم سره آشنايي.

۲. له برزخ او د هغه له مفهوم سره آشنايي.

**پوښتنه:**

۱. آيا پوهيږئ چې په قيامت کې څه کېږي؟

د دين له اصولو څخه پنځم اصل ايمان لرل دي په معاد باندې معاد يعنې دا چې انسان له مړينې وروسته د دوهم ځل لپاره بيا را ژوندی کېږي او ټولې کړنې يې محاسبه کېږي. دغه اصل په ټولو آسماني اديانو کې تر سترګو کېږي په هر مذهب کې چې پر قيامت باندې باور لرل وجود و نه لري، الهي دين او مذهب ورته نه شو ويلی.


ټول پيغمبران او آسماني کتابونه پردې مطلب باندې اتفاق لري چې د انسان ژوند په مرګ باندې پای نه مومي بلکې د دغه ژوند پای ته رسېدلو سره يو بل جهان وجود لري چې هر څوک پکې د خپلو نيکو عملونو جزا او د بدو کارونو سزا ګوري.

په قرآن عظيم الشان کې د معاد مسئلې ته خاصه پاملرنه شوې ده، د توحيد له موضوع وروسته چې د پيغمبرانو(ع) په تعليماتو کې ترټولو اساسي مسئله ده، د معاد موضوع ده چې تربيتي پايلې يې زيات اهميت لري. له خدای پېژندنې وروسته زياتو آيتونو د معاد تر مسئلې پورې اړه نيولې ده او په مختلفو نومونو باندې راوړل شوې ده چې هر يو يې د معاد له حوادثو څخه د يوې حادثې په ګوته کوونکی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

یوم القیامه (دقیامت ورځ) یوم الحساب (د حساب ورځ) یوم الدین (د جزا ورځ) یوم الندامه (د پښېمانتیا ورځ) یوم الحکم (دفیصلې ورځ) یوم الحسرة (د نا امیدی ورځ) او یوم المسئله (د پوښتنې کولو ورځ).



**هڅونه:**

۱. زده کوونکي دې دوه دوه په خپلو مینځو کې د قیامت د ورځې په اړه سوال او ځواب وکړي چې د څه لپاره ده.

۲. زده کوونکي دې درې درې تنه په خپل منځ کې خبرې اترې وکړي چې انسانان ولې باید له نا وړه کارونو څخه ځان و ژغوري.



**ارزونه:**

۱. ایا زده کوونکي د معاد په معنی او هدف پوه شوي دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم لوست:

## د رحمت نبي

**هدف:**

د پیغمبرصلی الله علیه و اله وسلم له شخصیت او ژوند سره بلد تیا.

**پوښتنې:**

۱. تاسې د اسلام ستر پیغمبر په کومه اندازه پیژنې؟

۲. آیا پوهیږئ چې د اسلام ستر پیغمبر په خپل امت ډېر زړه سواندی و؟

د اسلام قدر من پیغمبر ډیر مهربان او زړه سواند و. سخت کړاوونه یې پخپل ځان ګالل تر څو خلک نور هم اسلام ته مخ کړي او د دنیا او آخرت سعادت ور په برخه شي. ښه به وي چې په دې باره کې قرآن کریم ته مراجعه و کړو چې الله تعالیٰ څه فرمايلي دي. د توبې سورة په (۱۲۸) آیت کې الله تعالی فرمايي : (لقد جاء کم رسول من انفسکم عزیز علیه ما عنتم حریص علیکم با لمؤمنین رءوف الرحیم) یعنی خامخا په تحقیق راغلی دی تاسې ته یو رسول له جنسه ستاسې چې ډېر سخت درونډ دی پر ده باندې هغه کار چې تاسې تکلیف مومی له هغه ډیر حرصناک دی په هدایت ستاسې خاص پر مؤمنانو باندې نهایت شفیق ډېر مهربان دی.

هر کله به چې څوک د اسلام پر مبارک دین مشرف کېدل نو رسول الله (ص) به ډېر زیات خوښیده، ځکه چې دغه کس به د دنیا او آخرت سعادت ته رسېده. تاریخ ګواه دی چې رسول الله (ص) به هر ډول سترې او ترخې ګاللې تر څو مسلمانان لا زیاتې کامیابۍ تر لاسه کړي. هغه (ص) په هېڅ قیمت حاضر نه شو چې له خپلې دندې څخه چې د انسانانو لارښوونه ده لاس واخلي. یو ځل د قریشو کفارو ورته وړاندیز وکړ چې د اسلام د مبارک دین له تبلیغ نه لاس واخله. مونږ حاضر یو هرڅه چې غواړې درېې کړو. نبي علیه السلام ورته وویل:



(c) ketabton.com: The Digital Library

د الله تعالی پر ذات مې دې سوګند وي چې که لمر په یوه لاس کې او سپوږمۍ په بل لاس کې راته کېږدې (د دنیا قیمتي شیان راته راکړې) نه غواړم له دغه کار څخه لاس په سر شم ځکه چې پیغمبر (ص) نه غوښتل د انسانانو هدایت ته له را بللو څخه لاس واخلي او خلک په بې لاریو، ګمراهۍ او جهالت کې د تل لپاره پاتې شي.

**هڅونه:**

۱. د لوست لنډیز ولیکئ.
۲. د قرآن کریم مبارک آیت له معنی سره په یاد و یاد کړئ.
۳. د مسجد د امام په مرسته پر امت باندې د پیغمبر (ص) د زړه سوي نور موارد ذکر کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم لوست:

# د امامانو پیژندنه

**هدف:**

د اهل بیت د امامانو له شخصیت او ژوند سره آشنایي.

**پوښتنې:**

۱. ایا امام پیژنئ؟

۲. ایا امام باقر(ع) پیژنئ؟

## امام باقر(ع):

زموږ پنځم امام، امام محمد باقر د امام سجاد (ع) زوی په **۵۷** هـ کال په مدینه منوره کې زیږیدلی او د **۵۷** کلونو په عمر په **۱۱۴** هـ کال په شهادت ورسېد او د بقیع په هدیره کې خاورو ته سپارل شوی دی. هغه (ع) ډېر لوی عالم و زیات شمیر شاګردان یې روزلي وو. امام باقر(ع) د اسلام د مقدس دین د رواجولو په اړوند د ستاینې وړ کوښښونه کړی دی.

## امام جعفر صادق (ع):

زموږ شپږم امام، امام جعفر صادق (ع) د امام محمد باقر(ع) زوی دی.

امام جعفر صادق (ع) د **۸۳**هـ کال د ربیع الاول په (۱۷) د مدینې منورې په ښار کې زیږیدلی او په کال ۱۴۸ هـ د **۶۵** کلو په عمر په شهادت ورسېد امام جعفر صادق (ع) هم د بقیع په مشهوره هدیره کې خاورو ته سپارل شوی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## امام موسی کاظم(ع):

زمونږ اووم امام موسی کاظم دی، د پلار نوم يې امام جعفر صادق (ع) دی د مور نوم يې حميده ده. امام کاظم (ع) په ۱۲۸ هـ کال د صفرې د مياشتې په (۷) نيټه دنيا ته راغلی او په ۱۸۳ کال د هارون الرشيد په زمانه کې د بغداد په زندان کې په شهادت ورسېد.


امام کاظم د بغداد لمر پرېواته د قريشو په هديره کې چې اوس مهال د کاظميه په نامه ياديږي خاورو ته وسپارل شو.

## امام علي بن موسی الرضا(ع):

زمونږ اتم امام علي د امام موسی کاظم(ع) زوی دی چې پر امام رضا(ع) باندې شهرت لري، موريې بي بي نجمه نوميږي. امام رضا(ع) په ۱۴۸ هـ کال د ذي القعدي د مياشتي په يوولسمه په مدينه منوره کې دنيا ته راغلی او په ۲۰۳ هـ کال د صفرې د مياشتې په ۲۹ نيټه په شهادت ورسيد چې د خراسان په طوس نومي ځای کې چې اوس په مشهد مقدس باندي ياديږي دفن دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## هڅونه:

۱. دا لوست په غور سره ولولئ او لاندې جدول ډک کړئ:

| شماره | د امام نوم | د پلار نوم | د زیږدلو نیټه | د وفات کال | عمر | مدفن |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | | | | | | |
| ۲ | | | | | | |
| ۳ | | | | | | |
| ۴ | | | | | | |
| ۵ | | | | | | |
| ۶ | | | | | | |
| ۷ | | | | | | |
| ۸ | | | | | | |



## ارزونه:

۱. امام محمد باقر(ع) په

۲. امام جعفر صادق (ع) په

۳. امام موسي کاظم (ع) په

۴. امام رضا(ع) په

کال خاورته سپارل شوی دی.

کال دنیاته راغلی دی.

کال په شهادت ورسېد.

کال زیږیدلی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم فصل: فقه

نهم لوست:

## د لمانځه مکروهات

**هدف:**

۱. د لمانځه له مکروهاتو سره آشنايي.

**پوښتنې:**

۱. آیا د لمانځه مکروهات پیژنئ؟
۲. ستاسې په نظر که څوک په لمانځه کې مکروه کار تر سره کړي آیا لمونځ يې باطلېږي؟

په جعفري فقه کې مکروه هغه کار ته ویلی کېږي چې نه کول يې بهتر دي. ولې کول يې هم ګناه نه لري خدای تعالی خپلو بندګانو ته د هغه په کولو کومه سزا نه ورکوي په لمانځه کې هم مکروهات هغو کارونو ته ویلي کېږي چې نه کول يې ښه دي ولې که چا وکړل د لمانځه ثواب يې کمېږي خو لمونځ يې نه باطلېږي ځينې له مکروهاتو نه په دې ځای کې لولو.

۱. په لمانځه کې له لاس يا ګوتو سره لوبې کول
۲. سترګې پټول
۳. د حمد يا سورت يا ذکر ويلو پر مهال د افرادو يا اشياوو د غږ اورېدنې په غرض چوپ کېدل
۴. د لږ وخت لپاره ښي او کيڼ لوري ته مخ اړول.
۵. د هر هغه کار کول چې خشوع او خضوع له مینځه وړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**هڅونه:**

۱. د مکروه معنا په خپلو کتابچو کې توضیح کړي.

۲. د لمانځه مکروهات یو ځل په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

۳. د مسجد شریف د امام په مرسته د لمانځه د مکروهاتو نور موارد پیدا کړئ.

**ارزونه:**

۱. آیا زده کوونکي د مکروه پر معنا پوهېدلي دي؟

۲. آیا زده کوونکي د لمانځه مکروهات پېژندلي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

لسم لوست:

# د آیات لمونځ

**هدف:**

۱. د زده کوونکو آشنا کیدل د آیات له لمانځه سره.

**پوښتني:**

۱. آیا پوهیږئ چې د آیات لمونځ په کومو حالاتو او واقعاتو کې لوستل کیږي.

د آیات لمونځ د څلورو شیانو لپاره واجبیږي:

۱- کله چې لمر تندر ونیسي. ۲- کله چې سپوږمۍ تندر ونیسي. ۳- د زلزلې په وخت. ۴- د تندر برېښنا او سختو تیزو بادونو په وخت چې اکثره خلک ووېروي.

## د آیات د لمانځه د ادا کولو طریقه:

د آیات لمونځ دوه رکعته دی چې هر رکعت یې پنځه رکوع لري. هر کله چې اودس وکړو او د قبلې په طرف ودرېږو نیت کوو د مثال په توګه وایو چې د زلزلې په خاطر لمونځ کوم چې الله تعالی ته نیږدې شم او تکبیر «الله اکبر» وایو. وروسته بیا د حمد سورت او یو بل د قرآن کریم سورت لولو او رکوع ته ځو بیا درېږو او د دویم ځل لپاره د حمد سورت د قرآنکریم له یو بل سورت سره لولو او رکوع ته ځو او په همدې ډول سره دې کار ته دوام ورکوو تر پنځمې رکوع پورې. وروسته له پنځمې رکوع څخه سجدې ته ځو او دوه سجدې کوو او بیا ودرېږو او دوهم رکعت د لومړي رکعت په شان ادا کوو او وروسته له دوهمې سجدې څخه تشهد لولو او سلام ګرځوو. د آیات لمونځ کولی شو چې په لنډه توګه سره هم ادا کړو: مثلاً وروسته د



(c) ketabton.com: The Digital Library

تکبیر احرام څخه د حمد سورت لولو او وروسته بیا یو سورت په پنځو برخو ویشو او له هرې برخې څخه وروسته یوه رکوع کوو. لکه: بسم الله الرحمن الرحیم رکوع، قل هو الله احد رکوع، الله الصّمد رکوع، لم یلد و لم یولد رکوع، و لم یکن له کفواً احد رکوع.

هڅوني:

۱. زده کوونکي دې په درې څلورو ډلو وویشل شي او د آیات د لمانځه په باره کې دې یو له بل سره خبرې وکړي.

۲. د آیات لمونځ په عملي توګه سره ادا کړئ.

ارزونه:

۱. آیا زده کوونکو د آیات د لمانځه د ادا کولو طریقه زده کړې ده؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوو لسم لوست:

# د جمعې لمونځ

## اهداف:

۱- د جمعې د لمانځه پیژندنه

۲- د جمعې د لمانځه له اهمیت سره آشنایي

## پوښتنې:

۱. آیا د جمعې لمونځ مو یاد دی؟

۲. آیا د جمعې په لمانځه کې ګډون کوئ؟

اسلام یو داسې جامع او هر اړخیز دین دی چې د فرد او ټولنې د ژوندانه په ټولو مراحلو کې د بشر اړتیا وته خاصه پاملرنه لري د هغه موافق یې د ټولنیز ژوندانه په بیلا بیلو دورو کې د انساني ژوند د بهبود او ښه والي لپاره عملي کړنلارې په نظر کې نیولې دي.

د جمعې لمونځ او په جماعت سره د لمانځه ادا کول او داسې نور ډیر الهي واجبات او عبادات دي چې د اخوت او ورور ګلوۍ د روحیې د تقویې او پر دیني او انساني معیارونو باندې د انساني اړیکو د ټینګښت لپاره خورا ګټور او ارزښتناک دي.

د جمعې لمونځ د ولی ا لعصر د نشتوالي په وخت کې یو اختیاري واجب دی یعنې د جمعې په ورځ کولی شو د ماسپښین لمونځ اداء کړو او هم کولی شو چې د جمعې لمونځ اداء کړو، ولې په روایاتو کې د جمعې د لمانځه پر اداء کولو باندې ټینګار شوی دی او له دې څخه معلومیږي چې د جمعې د ورځې په ماسپښین کې د جمعې د لمانځه اداء کول غوره او ثواب یې د ماسپښین د لمانځه له اداکولو څو چنده زیات دي. د جمعې لمونځ باید په جماعت سره اداء کړای شي او په انفرادي ډول کول یې صحیح نه دي.

د جمعې لمونځ د سبا د لمانځه په شان دوه رکعته دی ولې د جمعې لمونځ دوه قنوته لري چې لومړنی قنوت يې د لومړي رکعت له رکوع څخه د مخه او دوهم قنوت يې د دوهم رکعت له رکوع څخه وروسته دی. د جمعې د لمانځه بل فرق د سبا له لمانځه سره په دې کې دی چې د جمعې لمونځ د دوه خطبو لرونکی دی چې د خطبو لوستل يې هم د لمانځه په شان واجب دي او بايد چې پخوا د جمعې له لمانځه څخه د امام له خوا واورولی شي؟

امام ته لازمه ده چې د جمعې د لمانځه په خطبو کې مسلمانان له سياسي او ټولنيز حالت او وضع څخه باخبر کړي او د مسلمانانو د ديني او دنيوي ښې ګټو او مصالحو يادونه وکړي.

**هڅونه:**

١. زده کوونکي دې د جمعې د لمانځه د اقامې په اړوند په دوه کسيزه ګروپونو کې يو له بل سره خبرې وکړي.

٢. زده کوونکي دې د جمعې د خطبو په باره کې يو له بله څخه پوښتنې وکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

دولسم لوست:

# د اختر لمونځ

**هدف:**

۱. د اخترونو د لمانځه له وخت او طريقې سره آشنايي.

**پوښتنې:**

۱. ايا تر اوسه مو د اختر لمونځ اداء کړی دی؟

۲. د اخترونو (واړه او لوی اختر) لمونځ د جمعې له لمانځه سره څه ورته والی لري؟

د اخترونو لمونځ د جمعې د لمانځه په څير دوه رکعته دی او په لاندې ډول اداء کيږي:

د نيت کولو او د احرام له تکبير نه وروسته د حمد سورت د يو بل سورت په ملتيا لوستل کيږي. د سورت له لوستلو وروسته په لمړی رکعت کې پنځه تکبيرونه دي او له هر تکبير نه وروسته قنوت دی له پنځم قنوت نه وروسته تکبير وايي رکوع ته ځي له رکوع وروسته دوه سجدې کوي او دريږي.

په دوهم رکعت کې د حمد او يو بل سورت له لوستل وروسته څلور تکبيره دي او له هر تکبير څخه وروسته قنوت لوستل کيږي لکه د لومړي رکعت په څير، له څلورم قنوت څخه وروسته رکوع او سجده کوي. له تشهد او سلام اړونې وروسته لمونځ پای ته رسوي. بيا وريسې امام دوه خطبې لولي .



(c) ketabton.com: The Digital Library

د اخترونو او جمعې په لمونځونو کې يوازې امام حمد او يو بل سورت لولي نور ذکرونه به هم امام او هم مقتدي لولي. د خطبې په پای کې د اسلامي ټولنې د خير او مصلحت لپاره دعا کوي.

**هڅونه:**

١. زده کوونکي دې په درې کسيزو ګروپونو کې د دواړو اخترونو د لمانځه د اداء کولو د طريقې په باره کې يو له بل څخه پوښتنې وکړي.

ارزونه:

١. ايا څوک کولی شي د اخترونو د لمانځه د کولو طريقه توضيح کړي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

دیارلسم لوست:

# قضایي لمونځ او احکام يې

**هدف:**

۱- د قضایي لمانځه د اداء کولو د وخت او ترتیب پیژندنه

**پوښتنې:**

۱- ایا څوک کولی شي د قضایي لمانځه د ادا کولو ترتیب بیان کړي؟

قضايي لمونځ هغه لمانځه ته ويلی کېږي چې له خپل شرعي وخت څخه بهر اداء کېږي، مثلاً: د سبا لمونځ چې د کوم عذر له مخې په خپل معلوم وخت کې اداء شوی نه وي په بل وخت کې اداء کړای شي.

د واجب لمانځه قضايي واجب دی، که چېرې د هېرېدنې او يا خوب له وجهې د چا لمونځ قضا شي، د يادېدلو او يا له خوب څخه د ويښېدلو په وخت کې دې ژرتر ژره بې له ځنډه اداء کړي.



**هڅونه:**

۱. زده کوونکي دې دقضايي لمانځه او د هغه د ادا کولو د ترتيب په باره کې په ډليزه توګه مباحثه وکړي.

۲. زده کوونکي دې د سوال او ځواب په ډول په خپلو کې د قضايي لمانځه د نيت په باره کې خبرې وکړي.



**ارزونه:**

۱. آيا زده کوونکو د قضايي لمانځه د ادا کولو طريقه زده کړې ده؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

څوارلسم لوست:

# په قرآن کريم کې واجبې سجدې

**هدف:**

۱. د قرآن کريم د واجبې سجدې د ځايونو زده کول.

**پوښتنې:**

۱. ايا پوهيږئ چې د قرآن کريم په کومو سورتونو کې سجده واجبيږي؟

قرآن کريم د انسانانو د هدايت لپاره د **۲۳** کلونو په اوږدوکې پر پيغمبر(ص) نازل شوی دی. قرآن کريم د انساني ژوندانه د ټولو اړخونو لپاره ځانګړې لار ښوونې لري. يو شمير آيتونه سجده لري يعنې کله چې څوک هغه آيت تلاوت کړي بايد سجده وکړي خو د قرآن کريم په څلورو آيتونو کې واجب سجدې دي، که څوک دغه آيت پخپله تلاوته کړي او يا يې له بل څخه واوري حتماً بايد سجده وکړي. دغه څلور ايتونه په لاندې ډول دي.

| | |
|---|---|
| ۱- السجدې سورت | يويشتمه پاره **۱۵** آيت |
| **۲**-د فُصِلَت سورت | څلور ويشتمه پاره **۳۸** آيت |
| **۳**-د پنځم سورت | او ويشتمه پاره **۲۲** آيت |
| **۴**- د علق سورت | ديرشمه پاره **۱۹** آيت |

د قرآن کريم په واجبه سجده کې لاندې اذکار ويلی کېږي لااله الاالله حقاً حقاً لااله الا الله ايماناً ايماناً و تصديقاً لااله الاالله عبودية و رقاً سجدت لک يا رب تعبداً ورقاً لامستنکفاً و لامستکبراً بل انا عبدٌ ذليل ضعيف خايف مستجير.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**هڅونه:**

۱. زده کوونکي دې د هغو سورتونو چې واجبې سجدې لري په درې کسیزه ګروپونو کې سره نومونه واخلي.

۲. زده کوونکي دې د واجب سجدې اذکار په دوه کسیز ګروپ کې په يادو ياد کړي.

**ارزونه:**

۱. ایا د قرآن کریم د واجب سجدې ذکر په یادو ویلی شئ؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم فصل: آداب او اخلاق

پنځلسم لوست:

## فضایل او اخلاقي مکارم

**هدف:**

۱. له فضایلو او اخلاقي مکارمو سره آاشنایي.
۲. له هغو شیانو سره آشنایي چې په انسان کې د اخلاقي فضایلو د شتون لامل ګرځي.

**پوښتنې:**

۱. ستاسې له نظره اخلاقي فضایل څه شی دي؟
۲. آیا پوهیږئ چې د اسلام مبین دین پر اخلاقي فضیلتونو باندي زیات ټینګار کړی دی؟

نیک خویونه هغه څه دي چې اسلام ور باندې ډېر ټینګار لري. پیغمبر(ص) و فرمایل: د دې لپاره مبعوث شوی یم چې اخلاقي مکارم بشپړ کړم. د پیغمبر (ص) د دې وینا معنا داده چې د اخلاقي فضیلتونو اهمیت دومره زیات دی چې د رسالت هدف ګڼلی شوی دی.

اخلاقي فضایل له هغو اخلاقي خویونو څخه عبارت دي چې الله پاک ، انساني عقل او وجدان او پاک انسانان یې خوښوي. مونږ باید هڅه وکړو تر څو نیک خصلتونه وپیژنو او په عمل کې یې پلي کړو. مونږ له ناولي محیط او بدو دوستانو څخه په څنګ و اوسو چې زمونږ اخلاق را خراب نه کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د زړه سوانده ښوونکو خبروته غوږ نیوی، د اخلاقي او دیني کتابونو لوستل او د لویانو پندته غوږ ایښودل، د ښو اخلاقو په لاس ته راوړنه کې په زړه پورې مرسته کوي.

ښه اخلاق انسانان پخپلوکې سره مخلص دوستان جوړوي او مینې ته وده ورکوي.

**هڅونه:**

۱-د مسجد د امام په مرسته پنځه اخلاقي فضیلتونه ولیکئ.

۲-د نبوي حدیث په باره کې خپل نظر ولیکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

شپاړسم لوست:

# امانت ساتل او په عهد وفا

**هدف:**

۱. له امانت ساتلو سره آشنايي

۲. د امانت ساتلو په باره کې د اسلام له نظر سره آشنايي.

**پوښتنې:**

۱. امانت ساتل زمونږ په ژوند کې څه اهميت لري؟

۲. که خلک په امانت کې خيانت وکړي او پر وعدې باندې وفا ونه کړي څه به پېښ شي؟

د اسلام په مبين دين کې پر امانت ساتلو او پر وعدې وفا کولو باندې خورا ټينګار شوی دی الله تعالیٰ په قرآن کريم کې امانت ساتل او پر وعدې وفا کول د مسلمانانو صفتونه ښوولي دي: ﴿وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ﴾

(د المؤمنون سورت (۸)آيت.)

دوو شپنو چې تل يې خپلې ګډې يو ځای څرولې، وعده وکړه چې سبا به خپلې ګډې پلاني ځای ته چې شنه واښه لري بيا يو، سبا چې يوه شپانه خپلې ګډې هماغه ځای ته بوتلې ګوري چې هغه بل شپون هلته رسيدلی خو نه پريږدي چې ګډې يې وڅري.
پوښتنه يې وکړه: ولې دې ګډې څر ته نه پرېږدې
ملګري يې ځواب ورکړ:
څنګه چې له تاسره مې وعده کړې وه چې يو ځای به راځو، ځکه خو نه غواړم چې ستا د ګډو له را رسېدو مخکې دې ځما ګډې په وښو کې و څري.



(c) ketabton.com: The Digital Library

هو دوستانو! کومه و چې واورېده د الله تعالی د رسول محمد (ص) قصه ده. نومړې قصه د عمار (رض) له خولې را نقل شوې ده چې لـه بعثت څخه ړومبی یې د رسول الله (ص) سره جوړه شپني کوله د رسول ا لله (ص) همدغه ښه او ښکلي اخلاق وه چې له هغه مبارک څخه یې د رسالت وړ شخصیت جوړکړ.

**هڅونه:**

۱- زده کـوونکي دې د ښـوونکي پـه لار ښـوونه د وفـا دارۍ پرګټـو او د بـې وفايۍ پر زيانونو بحث وکړي.

۲- د نومړې قصې په باره کې خپل نظر څرګند کړئ.

**ارزونه:**

۱. آيـا زده کـوونکي کـولای شـي پـر عهـد بانـدې د وفـا کولـو پـه اړه خپـل معلومات وړاندې کړي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

اوولسم لوست:

# په اسلام کې د صلح اهمیت

## اهداف:

۱. د صلح له معنی او اهمیت سره بلدتیا.

۲. د صلح په باره کې د اسلام له نظر یې سره آشنایي.

## پوښتنې:

۱. ستاسې په نظر صلح زمونږ په ژوندانه کې څه اهمیت لري؟

۲. آیا د صلح په باره کې د اسلام پر نظریې پوهیږئ؟

## صلح:

د ژوند له مهمو شرایطو څخه یو هم صلح او آرامي ده . هره ټولنه چې د صلح له نعمت څخه برخمنه نه وي ارو مرو به د بد بختۍ او نا بودۍ ښکار شي. د اسلام مبارک دین د صلح او ارامۍ په لرلو زیات ټینگار کړی د اسلام دصلح غوښتنې بیلگه کولی شئ د مکې د فتح په ورځ د رسول ا لله (ص) په چار چلند کې و وینئ.

کله چې د اسلام ستر پیغمبر (ص) په مکه کې خلک اسلام ته را بلل د مکې مشرکینو به د ابو جهل او ابو سفیان په مشرۍ د خدای پیغمبر (ص) او د هغه پیروان په سختۍ سره ازارول، تردې چې پخپله د نبي علیه السلام سپکاوی یې کاوه او پخپلو کې یې سره وعده کړې وه چې له مسلمانانو سره به هیڅ ډول معامله او د دوستې رشته نه قایموي. پیغمبر(ص) مخلصو اصحابو یې پوره دری کاله له مکې څخه بهر په شعب ابي طالب کې په سختې لوږې او تنگ لاسۍ کې ژوند کاوه. وروسته له هغې چې مسلمانانو مدینې ته هجرت وکړ او اسلامي حکومت یې جوړ کړ نو مکه یې د یوه برید په ترڅ کې فتح کړه، د مکې اوسیدونکو گومان کاوه چې د هغه اذیت او ازار له مخې چې پیغمبر (ص) او اصحابو ته یې رسولی دی له دوي



(c) ketabton.com: The Digital Library

سره به بد چلند وکړي خو د خدای ریښتینی پیغمبر (ص) له هغو ټولو بې رحمیو سره سره چې د مکې د خلکو له پلوه یې لیدلې وې. ټول و بښل او اسلام ته یې را و بلل.

**هڅونه:**

۱- لوست په دقت ولولئ او لنډیز یې ولیکئ.

۲- له اهل مکه وو سره د پیغمبر(ص) د چار چلند په باره کې خپل نظر ولیکئ.

**ارزونه:**

۱. زده کوونکو ته وظیفه ورکړئ چې د صلح اهمیت توضیح کړی.

۲. زده کوونکي دې د نبي صلی علیه و آله وسلم صلح آمیزه پالیسۍ بیان کړي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

اتلسم لوست:

# په اسلام کې د روغتیا ارزښت

**هدف:**

۱. د روغتیا له ارزښت سره آشنایي.

۲. د روغتیا په باره کې له اسلامي نظر یې سره آشنایي.

**پوښتنې:**

۱. روغتیا زمونږ په ژوند کې څه اهمیت لري؟

۲. تاسې د خپلې روغتیا ساتنې لپاره څه کار کوئ؟

د اسلام دین د صحت (روغتیا) او سلامتۍ په ساتنې زیات لنګر اچولی، په حدیث شریف کې راغلي:

یعنې پاکي او سپیڅلتیا د ایمان برخه ده.

د دې حدیث معنا داده چې که مونږ د پاکۍ خیال ونه ساتو نو ایمان به مو نیمګړی وي مونږ باید خپلې جامې د ژوند سامان الات او چاپېریال پاک او سپیڅلی وساتو تر څو تکړه او سلامت و اوسو. پاکوالی زمونږ د صحت او سلامتۍ ضمانت کوي پاک خلک هر چاته ګران وي، هغوی هېڅکله نا پاکو او ضرري شیانو لکه نسوارو، سګرتو او داسې نوروته هېڅکله نه نږدې کېږي، ځکه چې د انسان روغتیا له مینځه وړي او په ناروغۍ یې اخته کوي. پاک او سپیڅلي خلک غواړي پر مخ ولاړ شي او د هیواد د پر مخ تللو لامل وګرځي تر څو ټول خلک له هغو سره مینه ولري ښه انسانان غواړي روح او جسم یې غښتلي اوسي که ناروغ او سو او د روغتیا له نعمت څخه بې برخې اوسو هېڅ کله به پر مخ ولاړ نه شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## هڅونه:

۱. د روغتیا اهمیت په څو کرښو کې ولیکئ.

۲. د سلامتۍ له لاسه ورکولو زیانونه کوم دي؟

## ارزونه:

۱. آیا زده کوونکي کولای شي د صحت د ساتنې اهمیت بیان کړي؟

۲. آیا زده کوونکي کولای شي د صحت د ساتنې ځینې مهمې لارې په ګوته کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

نو لسم لوست:

# شورا په اسلام کې

**هدف:**

۱. د شورا له مفهوم سره آشنايي.

۲. په اسلام کې د شورا له اهميت سره آشنايي.

**پوښتنې:**

۱. ايا د شورا په معنا پوهيږئ؟

که ستاسې په کورنۍ کې کارونه په شورايي ډول سرته ورسيږي څه به پېښ شي؟

د اسلام مبارک دين مونږ ته لارښوونه کړې چې بايد په خپلو ټولو فوري او ټولنيزو چاروکې يو له بل سره مشوره وکړو په قرآن کريم کې د شورا په نوم د يو سورت وجود په اسلام کې د شورا پر اهميت باندي څرګند دليل دی. الله تعالی په قرآن کريم کې رسول الله (ص) ته امرکړی چې په کارونو کې له مسلمانانو سره مشوره وکړي که څه هم رسول الله (ص) په کمال کې تر ټولو انسانانو د لوړې مرتبې در لودونکی دی بيا هم الله تعالی ورته د مشورې به کولو حکم کوي څنګه چې پيغمبر(ص) د يو کامل انسان نمونه ده نو مونږ بايد په کارونو کې د هغه (ص) تابعداري وکړو. په بل ځای کې قرآن کريم د مؤمنانو په ستاينه کې فرمايلي چې هغوی په کارونو کې يو له بل سره شورا وکړي. مشوره د دې لامل ګرځي چې کارونه په سمې او صحيح طريقې سره چې تيروتنې پکې لږ وي سرته ورسيږي ځکه پيغمبر(ص) څخه پرته نور ګرد انسانان کامل ندي امکان لري چې تير وزي خو چې کله څو کسان پر يو موضوع باندې فکر وکړي او تصميم ونيسي جوته ده چې د کار نواقص به ډېر لږ وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## هڅونه: :

۱. لوست په غور سره ولولئ او لنډيز يې په نيمه پاڼه کې وليکئ.

۲. هغه آيتونه چې په لوست کې يې ژباړه ذکر شوې په قرآن کريم کې پيدا او پخپلو کتابچو کې وليکئ.

## ارزونه:

۱. د شورا د اهميت په باره کې دې له زده کوونکو څخه پوښتنې وشي او ښوونکی دې د هغوی د نظرونو ارزونه وکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

شلم لوست:

# مرسته او کمک

**هدف:**

۱. د مرستې له معنا سره آشنايي

۲. د مرستې له ګټو سره آشنايې.

**پوښتنې:**

۱. ستاسې په نظر مرسته زمونږ په ژوند کې څه اهميت لري؟

۲. آيا تاسې په کورکې له خپل مور او پلار سره مرسته کوئ؟

انسان په خپل شخصي او ټولنيز ژوند کې ټولنې ته محتاج دی او نه شي کولی چې له ټولنې سره خپلې اړيکې وشکوي. انساني ټولنه چې په هره کچه پر مخ تللې وي مرستې او بسپنې ته ارومرو اړتيالري، مثلاً: په يوې نوې کليوالي ټولنې کې يو کس ډير کارونه پر مخ بيايي. مثلاً يو بزګر کرل کوي ،ريبل کوي، اوړه کوي او آن داچې کولی شي ډوډۍ پخه کړي او خواړه تيار کړي. په داسي حال کې چې په يو ښاري او پر مخ تللي صنعتي ټولنه کې هر کار تخصص ته اړتيا لري او يو تن نه شي کولی چې ټول کارونه پر مخ بوځي، تر دې پورې چې د کمپيوتر جوړوني په يوه فابريکه کې هر کس په يوه کار کې تخصص لري نه شي کولي چې د کمپيوتر جوړونې ټولې چارې پر مخ بوځي.

د اسلام په مبين دين کې هم پر مرسته او بسپنه باندې ټينګار شوی دی، په ځانګړې توګه د خير په کارونو کې الله تعالی په قرآن کريم کې فرمايي: (وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ



(c) ketabton.com: The Digital Library

وَالتَّقْوَى) یعنې په ښو او د تقوی په کارونو کې یو له بل سره مرسته وکړی؟ څنګه چې پوهیږو مرسته او کومک په هماغه اندازه چې د خیر په کارونو کې ګټه لري او ښه دي هماغه اندازه مرسته او کومک په بدو کار ونوکې بد دي په همدې غرض قرآن کریم فرمایي (وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ) (د مائدې سورت ۲ آیت) یعنې په ګناه او دښمنیو کې یو له بل سره مرسته مه کوئ.

هڅونه:

۱. زده کوونکي دې په څو ډلو وویشل شي او په ټولنیز ژوندانه کې دې د مرستې د اهمیت په باره کې وغږیږي

۲. زده کوونکي دې یو له بل سره بحث وکړي چې د مکتب د یوه ضروري کار په پر مخ بیولو کې څنګه یوله بل سره مرسته وکړي.

ارزونه:

۱. زده کوونکي دې د مرستو په باره کې خپل نظرونه ووایي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**